# Epidemics Mentioned in Pashto literature.

# په پښتو ادب کښې د وباګانو د تذکرې څېړنه

Dr. Noor Ul Basar Aman*

Dr. Zafar Ullah Bakhshali**

**Abstract**: Some of what is done in everyday life are also conserve in literature. The eyes and ears of the nation refer to the writer and the poet because they express the important facts of life in different genres of literature either directly or symbolically Confronts past events and guides people to the future. Along with many other realities in life, there have also been epidemics and writers have conserve poets in their writings. Pashto literature has also maintained this tradition. If one studies Pashto literature in-depth, one must quote some of the famous events and epidemics that have taken place in Pakhtunkhwa. This article explores the epidemics mentioned in Pashto literature.

**Keywords**: Pashto, Literature, epidemics, Covid, Quarantine, Khushal Khan Khatak

وبا داسې مرض ته وائي چې هغه متعدي وي ،د يو انسان نه بل انسان ته لګي او په دې طريقه خورېږي، انسان ته د انګريزۍ په اصطلاح کښې "سوشل اينمل" هم په دې وجه وائي چې انسانان د معاشرې په دائرو کښې دننه شريک ژوند تېروي او د يو بل سره د مختلفو ضرورتو د پاره مېلاوېږي۔ په بعضې کلتورونو او مذهبونو کښې ګڼه ګوڼه ،نزدې کېدل او مېلاويدل ضروري او لازمي هم وي بلکې د ګناه ثواب عقېدې هم ورسره تړلې شوي وي۔ په دې وجه وبا په غېر مخصوصه طريقه ډېره په اسانه خورېږي۔ کرونا وبا هم د دې وجوهاتو په بنا زر خوره شوه۔

مختلفو لغتونو د وبا لغوي او اصطلاحي معناګانې او تعريفونه داسې کړي دي۔

"خورېدونکے مرض،هغه مرض چې متعدي وي او په يو اولس کښې مخې سره خور شي او خلق پرې مړۀ کېږي۔ لکه طاعون ،سيفينه۔"[1]

* Assistant Professor, Department of Pashto Malakand University Chakdera
** Assistant Professor, Department of Pashto Abdul Wali Khan University, Mardan

"اسم۔واحد ۔مؤنث۔(۱) مرګو ۔خورېدونکې مهلکه بیماري۔"[2]

"د نړیوال صحت اداري ډېر په اسانو ټکو کښې د وبا پېژندنه څۀ داسي کړې ده چې،"په نړیواله توګه د یوې ناروغۍ خورېدو ته "وبا" وائي"[3]

په عمومي توګه د وبا ګانو درې قسمونه دي۔

۱۔عالمي وبا Pandemic Plague

۲۔ علاقائي وبا Epidemic Plague

۳ ۔ مقامي وبا[4] Endemic Plague

عالمي وبا هغه وبا وي چې په ټول عالم یعنې ټوله دنیا ترې متاثره شي یا د دنیا زیاته حصه په څۀ نه څۀ شکل کښې د خپل اثر د لاندې راولي،علاقائي وبا هغه وي چې یوه خاص علاقه متاثره کړي او مقامي وبا هغه وي چې ډېره محدوده وي او په یو ځاے او مقام وي نور ځایونه متاثر نۀ کړي۔ کرونا د دنیا په تاریخ کښې داسې عالمي وبا ده چې په جدید دور کښې د دنیا ژوند څومره په تیزۍ سره روان وۀ دغه شان ورسره دا وبا هم ډېره په تېزۍ سره خوره شوه ۔ د دنیا په تاریخ کښې به د کرونا نه مخکښې داسې وبا نۀ وي راغلې چې هغې په لږ وخت کښې دومره دنیا متاثره کړې وي۔ دې وبا د پښتنو سیمه هم ډېره شدیده متاثره کړه چې په نتیجه کښې ئې په ادب کښې هم ډېره تذکره وشوه۔

پښتو ادب په هر وخت کښې راوچته شوې پېښنه په خپله غېږه کښې د نفرت اومحبت ،د خوشحالۍ او خفګان،د حېرانۍ او تجسس د احساساتو سره سمه خوندي کړې ده،دغه وجه ده چې زمونږ تاریخ زمونږ په ادب کښې هم خوندي دے۔د وړې نه وړه او د غټې نه غټه پېښنه ئې د زیرک نظر نه بچ نۀ ده پاتې شوې او نېغ په نېغه یا په علاماتو، اشاراتو او کنایاتو کښې ئې ضرور ذکر کړے دے۔ ځکه خو پښتو ادب د تلمیحاتو نه برجق دے۔ ادیب او شاعر هم د معاشرې یو حساس او ذمه وار شخصیت وي،دا ئې فرض جوړېږي چې د خپل نظر د زاویې نه هرې وبا او مصیبت ته وګوري او وګړو ته یو پېغام ورکړي۔

" هر لوئي اديب او شاعر چې د انسانيات محافظ بللے کېږي او د ټولنې او چاپېرچل استازے وي هغه هم د خپل کلام په ذريعه خلق د قدرتي افته خبروي هم دغه وجه ده چې د دنيا په مخ هر ادب کښې ددې افتونو ترجماني په نظر راځي[5]"

د معلوم تاريخ تر مخه ښکاره چې په پښتو ادب کښې د نورو ډېرو خبرو ،اصنافو ، اصطلاحاتو ، الفاظو ذکر خوشحال خان خټک په وړومبي ځل کړے دے دغه شان د وبا ذکر ئې هم په خپل کلام کښې ډېر واضحه کړے دے .خوشحال خان خټک په کال ۱۰۲۲ هـ چې مطابق دے د ۱۶۱۳ء سره ،د شهباز خان په کور په اکوړه خټک نوښار کښې پېدا شوے دے . خوشحال بابا د ژوند د نورو ډېرو هلو ځلو سره سره ادب ته هم ډېرې بخښنې کړې دي چې يو پکښې ښۀ ضخيم ديوان هم دے [6].

خوشحال بابا "د غواص د کال وبا" په سر خط يو قصيده ليکلې ده اګرچې په دې قصيده کښې د قط ذکر هم دے چې هغه په خپله يوه وبا ده .خو په دې قصيده کښې د يوې وبا داسې ذکر دے چې په هغه زمانه کښې ئې ډېر نقصان کړے وو . دا وبا د نن نه تقريباً څلور سوه کاله مخکښې تېره شوې ده په دې وجه دا صحيح نۀ معلومېږي چې په دې وبا کښې به څومره نقصان شوي وي او په کوم کوم ځايونو کښې به ئې خپل اثرات خوارۀ کړي وي خو په دې قصيده کښې چې خوشحال بابا کومې اندازې يادې کړې دي د هغې نه دا معلومېږي چې مالي او جاني نقصانات ئې ډېر کړي وو .

دې قصيده کښې د " غواص د کال وبا" چې وړومبۍ مصرع ده ابجدو په حساب ترې ۱۰۹۷ هجري راوځي ، د يوې بلې مصرعې نه "کال حصغ شو وبا ولاړه" نه ۱۰۹۸ هجري راځي چې يو د وبا د شروع کېدو او بل ئې په شا کېدو تاريخ دے په دې حساب دا وبا تقريباً يو کال وه.

د يو بل شعر نه " تر دکنه تر کابله ، راخوره شوه دا بلا" چې د کابل او دکن ذکر پکښې شوے دے، دا اندازه کېږي چې د هغه وخت افغانستان او هندوستان ئې د خپل اثر لاندې راوستي و و . " په لکونو عالم ومړ . چې ښارونه شول صحرا" په دې شعر کښې د مړو د پاره د لکونو او د ښارونو صحرا کېدل داسې لفظونه دي چې ښۀ په اسانه ترې دا اندازه کېږي چې دې وبا ډېر زيات جاني او مالي نقصان کړے وو . د نورو مړو او د خوشحال بابا د ټبر نه علاوه بابا د خپل کور خلق هم ياد کړي دي چې دا پکښې وفات شوي دي په دغه کسانو کښې د بابا زوے بخت ناک او د هغۀ مور يعنې د بابا يوه کورودانه هم پکښې وفات شوي وو او سرفراز د سعادت خان زوے چې د بابا نمسے وۀ په دغه کال لېوني سپي چېچلے وو او د هغې نه مړ شوے وۀ ذکر هم موجود دے .

د غواص د کال وبا
خدای ئې مه راوله بیا

اکوړ خېل مې پکښې ومړل
لوی هلک مرد و نسا

بخت ناک مې پکښې ومړ
مور ئې هم بوته قضا

یو هلک ئې و راپاتې
ورپسې شو زر پناه

چاته ژاړم له دې غمه
سود مې کم دے د ژړا

لور په لور په دا لمبو کښې
عالم پروت په واوېلا

تر دکنه تر کابله
راخوره شوه دا بلا

په لکونو عالم ومړ
چې ښارونه شول صحرا

اول قحط بیا وبا وه
په هر لورې وه غوغا

سرفراز د سعادت وۀ
ښۀ نمسے مې و زېبا

هم حافظ د درست قرآن وۀ
هم په خط و بې همتا

د ښکار سپے ئې و ساتلے
لېونے شو بې غوغا

لاس ئې وروړ بې خبره
چې ګاڼه ئې خپل اشنا

دې ئې و چیچه په لاسو
لا علاج شو لادوا

په دا کال له ما قضا کړ
په ارمان ارمان جدا

کال حصغ شو وبا ولاړه
هم عسرت کړه راته شا

بارانونه دي وربېږي
ودانې شوه په دنیا

نه تل غم وي نه ښادي وي
وار په وار وي هغه دا

په هر حال شکر بایده دے
چې بد تر نه شي لا

اوس څه غم د عالمګیر دے
چې عالم ئې کړ رسوا

د وبا غوندې زر ورک شوے
بل یو ښه شوے راپېدا

یو خوشال دا دعا نۀ کا
درست جهان کا دا دعا

اجابت به ئې زر وشي
که د خدای وي پرې رضا[7]

د دې نه پس داسې په شلمه صدۍ کښې یوه وبا راغلې وه چې د پښتو ادب په تاریخ کښې ئې په یوه چاربېته کښې تفصیلي ذکر شوې دے ۔ د صوابۍ د رزړ تحصیل د نذرکلي اولسي شاعر عاصي عبدالمنان چاربیته او خان عبدالغفار خان باچا خان چې د کومو وباګانو ذکر په خپلو لیکونو کښې کړې

دے دا د جنګِ عظیم نه وروستو په ۱۹۱۷ء او ۱۹۱۸ء کښې يوه عالمي وبا راغلې وه چې ډېره تباهي ئې خوره کړې وه. د نورې دنیا سره ئې د پښتنو سیمه هم ډېره زیاته متاثر کړې وه.

"په کال ۱۹۱۷ء کښې يوه نوې وبا خوره شوه چې د " سپېنش فلو" یا د "سپین یخنۍ وال" په نوم یادېږي. دې ناروغۍ د پنځوس نه واخله تر سلو میلینو خلق ووژل او دا د نړۍ په خونړېز طاعون کښې شامله ده. د دې ناروغۍ يوه ځانګړتيا دا وه چې دې ډېر خلق په ځوان عمر کښې وژلي دي. د کومو عمرونه چې د ۶۵ نه کم وو.[8] "

د نورالبشر نوید په ارادت کښې وتونکې مجله میاشتنۍ "لیکوال" پېښور د فروري ۱۹۹۵ په ګڼه کښې په وبا لیکلې شوې يوه چاربېته "د وبا چاربېته" د يو تفصیلي نوټ سره چاپ کړې ده.

"نوټ : دا تاریخي چاربېته د هوتي مقیم استاذ نه لیکلې شوې ده. هغۀ د خپل استاذ غونډي استاذ نه یاده کړې وه،ځوک چې د خپل وخت مشهور مجلسي وۀ. دا چاربېته د هغې تاریخي وبا په حقله لیکلې شوې ده. کومې چې وائي،د جنګِ عظیم نه هم زیات خلق وژلي وو. دا چاربېته د صوابۍ د نذر کلي عاصي عبدالمنان لیکلې ده او اوس خال خال خلقو ته ئې څۀ برخه یاده ده. مونږ ئې د لوستونکو د دلچسپۍ او د لیکوال په پنګه کښې د خوندي کولو د پاره چاپ کوو. دا چاربېته په "تنظیم" صوابۍ کښې څۀ په نیمګړي شکل کښې چاپ شوې ده. مونږ ئې په مکمله توګه خپروو ".[9]

میاشت په کتک کښې مقرر وه
په دې رضا د پاک اکبر وه

زور د وبا په خراسان وۀ
په دې رضا خاوند تعالی وۀ
بل نمر خاتۀ ته ئې ادینه دے
بل ترې مشرق ته کالو خان دے
ورځخه خوا کښې شېره غونډ
دغه سوتا کلي ته ګوره
شبوې ته هم پکار دے پام
واځه ات خان په حمزه ډېر
د شېخ جانه کلي په سر وه
د نوي کلي په بازار کښې
پاتې مېره کښې سلیم خان وۀ

دا د قیامت ښکاره نشان وۀ
شمېرمه کلي یو اسمٰعېله وۀ
انجړے غرۀ ځخه پناه دے
هر یو د غم نه په لړزان دے
د کړه مار ګټو ته لنډ دے
پکښې باغچه شته دے سمسوره
وړاندې خلیل ته کېږده ګام
سپکاڼي مینځ کښې کړه راګېر
میاشت په کتک کښې مقرر وه
د کفنونو به څۀ شمار کړي
دا د قیامت ښکاره نشان وۀ

*****

د مناګۍ نه راپره شه
بل ترکۍ رشکۍ یو کړه
ډاګۍ کښې ودرېږه قرار شه
ملګرے ولېږه دولت له
چې تر رېشکې پورې ورشې
هله به لاړ شې بازارګي ته
دغه سړې چېښې ته غلے
خان مامود خان، خان چې سلام کړې
په روښاني باندې دلسوز
خوا د سوډهېر مې په نظر وه
د غازي کوټ سره صدرے وۀ
ریژي ګلونه ګډ خزان وۀ

د ترلاندۍ کلي سره شه
د ډنډوکا پورې رادو کړه
فکر کوه زړۀ کښې بېدار شه
ورکړه کاغذ د شمېرې خط له
بیا به دهوبیانو کښې خبر شې
خپل غوږ به ونیسې زېرګي ته
ورشه چې دے عجیبه کلے
دې د هر چا په غم کښې پام کړي
یعقوبي او یارحسېن روز
میاشت په کتک کښې مقرر وه
ډېر په ډاګۍ کلي برے وۀ
دا د قیامت ښکاره نشان وۀ

*****

په توتالۍ ډالۍ رفتن دے
چڅ هزراه کښې دا ګفتن دے

څه قدرې ورشه تر پېښوره
کړه تناول ،پکلۍ،منظوره

بل اګرول ئې مېنځ کښې ګېر کړه
ګيا کبل ترې راچاپېر کړه

غرونو کښې نۀ پېژنم کلي
اورم چې دي وبا وژلي

شتهِ ګدني بل امازي
خبر ئې دلته کښې راځي

ټوپۍ،مينۍ،باجا،بام خېل
جنډو بوکو ورسره مېل

بل ترې قبلې ته مانېرۍ وه
د صوابۍ خوا کښې ډېرۍ وه

کالا،دره دريم ئې پنج پير
شته په کړۍ کښې ئې جاګير

ښۀ مېلمستيا مې په باور وه
مياشت په کتک کښې مقرر وه

چې د زېدې شاه منصور وځې
له ټنکوۍ به وړے نه ځې

څرګند سخي شاه محمد خان وۀ
دا د قيامت ښکاره نشان وۀ

شته دے مرغز کالاټ دواړه
ډهوډېر کوټه زروبۍ دواړه

په اباسين لاهو شناز کړه
وړاندې د غم چپو ته لاس کړه

رانړه ډهېرۍ نور بانډه جات
پربېډم نومونه کم او زيات

د سيند نه خنډ ځنۍ بهر شه
زر تر کونډې انباره ورشه

جانګيرے پربړده ،چې اباد وي
شته د لاهور دوه کلي ياد وي

جلبۍ جلسۍ تور ډهېرے باغ
چې په کښې پروت د دين چراغ

قانو ،مانکۍ،خټک تمام
وکړه تر هنډه پورې پام

سراې کښې زر وخېژه رېل ته
ځان کړه تيار د نوښار سېل ته

خويشکو ډهېرۍ ته چې روان شې
پبو او تارو له به رسان شې

ډېره غوغا په پېښوړ ده
مياشت په کتک کښې مقرر ده

د پېښور په دروازو کښې
نۀ راتلۀ مړي په اندازو کښې

خليل مومندو کښې تالان وۀ
دا د قيامت ښکاره نشان وۀ

*****

د اپريدو نه اخوا هم ؤ
کوهاټ وزيرو کښې دا غم ؤ

بنو ،ډېره ،اسماعيل خان
پنجاب او سندهـ کښې دغه شان

ګوره ننګرهار جلال اباد
زور د مرض ؤ کور په کور
زور د مرض ډېر په کابل ؤ
پکښې سخي صاحب یادېږي
د سمندر نه اخوا غلے
زور د مرض په روم په شام
خبر راغلے د کنړ
کشکار ،چترال بدخشان وائي
په تلوار راشه دوا وې تهٔ
د پېښور نه ځان وباسه
خلقه ما خوړ بهٔ ئې انعام
دغه دعا زما اکثر وه

هر چا د غم کوۀ فریاد
هر چا د غم کوۀ انګور
بلخ ،بخارا کښې دا زلزل ؤ
په نېکه چار دې رارسېږي
مرض عربو ته ؤ تلے
ملک د ایران ئې کړو تمام
ورسره خوا کښې باجوړ
دیر به د سوات سره یو ځائے وي
ګوره باغونو کښې مېوې تهٔ
د سجاول بادشاه د لاسه
رب دې جنت ورکړي مقام
میاشت د کتک کښې مقرر وه

*****

په فریاد ګډ اشنغري وو
مخلوقه ټول سراسري وو

پاس د تنګي نه ئې راپره کړۀ
دا درانۀ کلي ئې ښکاره کړۀ

په شپږ پاؤ ډېره دلسوزي وه
فرقه ئې ایشته عمرزي وه

د ترنګزو اتمانزو خوا کښې
رځړ یادېږي په دنیا کښې

د چارسدې پړانګو په منځ کښې
بابړه هم وه دغه رنځ کښې

بل ئې قبلې ته ګل بېلا وه
چې وبا کړې پرې حمله وه

شته دے منګا درګۍ دوه سرې
د کوتر پاڼ سره کنډرې

څوکۍ ،رشکه غله ډهېر
اوس په طورو مایارو پېر

هوتي ،مردان ډاګۍ بغداده
زر کړه ګوجرو ګړهۍ یاده

مېنځ کښې بانډه مې د سکندر وه
میاشت په کتک کښې مقرر وه

زنډو کاګانو نه تر مؤبه
ټولو بانډو کښې وه دا لوبه

ډېر مې ګړهۍ باندي خفګان ؤ
دا د قیامت ښکاره نشان ؤ

قاسم کنډرې ګیدړے ؤ
ګمبت ښکاره شو نمر زیړے ؤ

شپه به کوم شهباز ګړهه کښې
نقطه مې سته هره کړه کښې

اوس به بونېر ته په بېزو ځم
په بابوزو او شموزو ځم

چې دربار اوکړم د سلطان
شي به چمله راته عیان

د چارغولۍ میرالي لاندې
شته پرمولۍ مچۍ پرې باندې

راځه په وړاندې دې سِدهوم دے
چې د رستم بازار ئې نوم دے

د بائي خان نه ګلیاړې ته
هوسۍ نه وخېژه دړې ته

په بابېنۍ فاطمه هیهات ؤ
په بخشالي او په ګجرات وۀ

د کاټلنګ لاندې ساول ډهېر
جمال ګړهۍ ګدهر مې هېر

دغه سودا مې په نظر وه
میاشت په کتک کښې مقرر وه

راځه په مخکښې دې ډهیرۍ ده
نذر د ښو خلقو سپرۍ ده

ځائے د عاصي عبدالمنان ؤ
دا د قیامت ښکاره نشان ؤ[10]

*****

په دې چاربېته کښې د پښتونخوا تقریباً د یو نیم سل کلو او ښارونو نومونه لیکلي شوي دي۔ د دې نه علاوه د افغانستان د بعضو علاقو او د څو ملکونو نومونه هم شته کوم چې دې وبا په خپله ولقه

کښې اخستي وو ـ دا چاربېته که يو خوا د فن او فکر په لحاظ يو شاهکار چاربېته ده نو بل خوا دا يو تاريخي دستاويز هم دے چې ډېر څۀ ترې اخذ کېدے شي ـ

خان عبدالغفار خان ،باچا خان په خپل کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې "وبا ،د وړومبي ټبر مرګ" د سرخط لاندې د يوې وبا ذکر کړې دے ـ

خان عبدالغفار خان چې په باچاخان مشهور وو ـ د پښتنو د ازادۍ د مشهور تحريک خدائي خدمتګار باني وو چې د پښتنو په تاريخ کښې يو ځلنده باب دے ـ خان عبدالغفار خان چې بيا ورستو په عوامي لقب باندې باچا خان شو ،د هشنغر په مشهور کله اتمانزو کښې د بهرام خان په کور کښې په ۱۸۹۰ء کښې پېدا شوے دے[11] -

"د جنګ په وجه په دنيا کښې سخته وبا راغله ـ په جنګ کښې دومره کسان نۀ وو مړۀ شوي لکه په دې وبا کښې چې مړۀ شول ـ په هندوستان کښې هم دې وبا ډېر خلک ووژل ، پښتانۀ هم ډېر پکښې مړۀ شول ـ دا داسې عجيبه وبا وه چې اکثر به ئې ځوانان، جينکۍ او هلکان وهل او مړۀ کول ـ او چې يو کور ته به يو ځل ننوته بيا به ئې يو هم نۀ پرېښودۀ، داسې پېښه شوې ده چې په کور کښې يو کس هم نۀ دے پاتې شوے او د کور دروازې پورې شوي دي ـ په وړوکو وړوکو کلو کښې به مړي همداسې پراته وو د ښخولو څوک نۀ وو ـ په دې مرض د ټولو نه اول زۀ پرېوتے وم خو هسې خدائے جوړ کړم ځکه چې په دې مرض هغه وخت څوک پوهېدل نۀ او نۀ د حکومت د طرف نه د ډاکټر، دوا او درمل انتظام وۀ ـ زما وروسته غني چې د پنځو کالو ناروغه شو ـ غني ډېر ښکلے وۀ د مور ئې ورسره ډېره مينه وه ډېر به ئې ورته ژړل ما به منع کوله او د صبر تلقين به مې ورته کولو خو د هغې زړه به نۀ صبرېدۀ ـ يوه ورځ د غني رنځوري سخته شوه مور ئې ورته د کټ سر ته ناسته وه د دۀ سر ئې په غېږ کښې اېښے وۀ ما د ماښام نمونځ کړے وۀ په مصلې ناست وم دعا مې کوله غني ته مې کتل چې بې هوشه پروت دے چې ناڅاپه ئې مور پاڅېده د زوي سر ئې د خپل ورانۀ نه په بالښت کښېښودۀ او د زوي له کټه چاپېره وګرځېده او سر ته ئې ودرېده او لاسونه ئې په دعا پورته کړل په ژړا ئې ووئيل چې اے خدايه د دۀ مرض په ما کښېږدې او دې ماشوم ته شفا ورکړې ـ د خدائے يو عجيب حکمت وۀ ـ په سبا له دا ناجوړه شوه د دې مرض ورځ په ورځ زياتېدو او د غني مرض به ورځ په ورځ کمېدو غني جوړ شو او مور ئې ځوانيمرګه شوه ـ ماشوم ئې راته پاتې شو ـ دغه وخت غني د پينځوو کالو ، ولي د دريو کالو او خور ئې د يو کال وه ـ

په کلو کښې دومره مړي کېدل چې خلک ئې ښخولو ته نۀ رسېدل مونږ به د سهار نه د قبرونو په کنستلو لاس پورې کړو تر ماښامه به لګيا وو ـ کله به په مشکله پوره شو او کله به يو نيم کم شو د ډېرو به د کفن درک هم نۀ وۀ ـ د داسې مړو دپاره مونږ يو فنډ جوړ کړو بې کفنو مړو ته مو د دې فنډ نه کفن

ورکولو او په دغسې حالت کښې به هم ځينې کسان راغلل په دروغو به ئې رانه کفن يوړو ځينو چالاکو به وژړل او مونږ ته به ئې دهوکه راکوله. اخر مونږ داسې انتظام وکړو چې کفن به مو د خپل سړي په لاس لېږلو چې مړي به ئې وليدو نو کفن به ئې ورکړلو که نۀ بېرته به ئې راوړلو. د دارو درملو مو هم څه انتظام کړے وۀ په اول کښې خو ئې چا ته دارو معلوم نۀ وو خو وروسته چې مرض اوږد شو ډاکټرانو او حکيمانو ورته دارو پېدا کړل هغه به مو جوړول او مريضانو له مو ورکول. دا يو ډېر لوے افت وۀ چې زمونږ په قام رانازل شو او په داسې وخت کښې چې نۀ په قام کښې احساس او نۀ اتفاق وۀ چې د دې مصيبت مخه ئې په اتفاق سره نېولے وے او نۀ مو کوم خواخوږے حکومت وۀ چې زمونږ غم ئې خوړلے وے او د دې آفت نه ئې بچ کړې وے. په جنګ کښې هم زمونږ د ملک خلک د نورو ملکونو د خلکو نه زيات مړۀ شول او په مرض کښې هم. جنګ د چا وۀ او مړۀ پکښې څوک شول؟ ګټه او ببلات د بل چا وۀ او جنګېدلو مونږ. زۀ خو وايم چې مونږ اجرتي قاتلان وو. د پېسو دپاره د خلکو مرګ پسې تللي وو د خپل ملک د آزادۍ او خپل عزت دپاره راکښې دا احساس نۀ وۀ چې د پيرنګي سره جنګېدلي وے يا کم از کم په خپل کور کښې ناست وے پيرنګے مو يواځې ترکو او جرمنو ته پرېښے وے. مونږ جرمن خو پرېږده د مسلمان ترک سره د پيرنګي په ډډه او طرفدارۍ وجنګېدو او جنګ مو ورته وګټلو. د دې ګټې په پاداش کښې مونږ ته پيرنګيانو "رولټ بيل" چې يو ظالمانه او ناروا قانون وۀ راکړو او د خدائے د طرف نه دا مصيبت نازل شو" [12]

د دې وبا په حالت بيانولو کښې څۀ داسې خبرې ذکر شوي دي چې د ادب په حواله ډېر اهميت لري يوه دا چې ورېمبے په دې مرض باچا خان ناروغه شوے وۀ او د شلمې صدۍ نابغه شاعر خان عبدالغني خان هم په وړکوالي کښې په دې مرض پرېوتے وو چې دې دواړه ته الله تعالي صحت ورکړو او د باچا خان يوه کورودانې په دې وبا کښې وفات شوې وه. بعضې خبرې داسې هم دي چې د نن دور د وبا سره د هغې تقابلي جائزه وشي نو هېڅ فرق پکښې نۀ مخصوصېږي،لکه لاعلاجه بيماري،په خلقو کښې يره ترخه خورېدل،د بېمارۍ دارو درمل نۀ پېداکېدل،د وبا په ورځو کښې هم اکې دهوکې کول او د بيمارۍ په تيزۍ سره خورېدل وغيره داسې خبرې دي چې څه د پاسه سل کاله پس هم د کرونا وبا په ورځو کښې تکرارېږي.

د دې وبا ذکر علامه اقبال هم په خپل يو خط کښې کړے دے چې په لاهور کښې د انفلوئنزا زور ډېر زيات دے. تر دې چې ګور کند هم نۀ مېلاوېږي. د دارو سره هم د دې مرض علاج نۀ شي کېدے. ورېمبے خو دا نۀ معلومېږي چې علاج ئې څۀ دے ،دويم دا چې دارو ئې نشته او دريم دا چې ډاکټران هم ترې متاثره شوي دي. الله دې خپل فضل وکړي. په پنجاب کښې دا وخت د دې حمله ډېره سخته ده. تقريباً دوه دوه نيم سوه خلق د ورځې مري. د کمېدو څۀ اثر ئې په نظر نۀ راځي. په امرتسر کښې هم دغه حال دے اميد دے چې په آله آباد کښې به خيريت وي.[13]

کرونا وبا:

کرونا داسې يو وبا ده چې د نورو وبا ګانو په نسبت دې وبا دنيا په جاني،مالي،ذهني،مذهبي،کلتوري،تعليمي او هر لحاظ سره متاثره کړه او لګيا ده متاثره کوي ئې بلکې د دنيا د خلاء پورې پرمختګ ته ئې پټون وټېولو .د دنيا ټول سائنس دانان ، ډاکټران ، حکيمان ،جادوګران ،دم درهو والا ورته ګوته په خولۀ دي او په هېڅ علاج ئې نۀ پوهېږي.

کرونا وبا چې څنګه د دنيا نور اړخونه متاثر کړل دغه شان ئې ادب هم متاثر کړو او په ادب کښې ئې خپل ځان خوندي کړو ،نوې الفاظ،اصطلاحات،تشبيهات،ترکيبات،لغات او نومونه ئې ادب ته رادننه کړل.يو څو مثالونه ئې لاندې عرض دي.

اولسي ادب: اولسي ادب د عوامو نه نېغ په نېغه،خالص او في البديع تخليق کېږي په دې وجه د هر څۀ نه مخکښې يوه واقعه په اولسي ادب کښې منعکس کېږي. کرونا وبا هم د ټولو نه مخکښې په اولسي اصنافو کښې خپل اثرات ښکاره کړل.

په اولسي ادب کښې د ټولو نه مشهور ،مقبول او اسان صنف "ټپه" ده. په دې وجه يو شمېر ټپې داسې مخې ته راغلي چې په هغې کښې د کرونا او د هغې ذکر په مختلفو حوالو موجود وو.

که ديدن کړې تلوار راوکه    زمونږ په کلي کښې مرګو ده مړه به شمه[14]

د کور په شا مې رنځور پروت دے    که چا ورپريښوم په ديدن ئې رغوومه[15]

په مرګ به مرم پاتې به نۀ شم    خو د کرونا مرګ نه کرکه شان راځينه[16]

د يار نه پټه پټه ګرځم    د چين نه راغے رانه غواړي ديدنونه[17]

ما د لالي د مينې زار کړې    راله تخفه کښې ئې راوړي دي ماسکونه[18]

د کرونا ظالم د لاسه    د مکتبونو دروازې تړلې دينه

د کرونا ظالم د لاسه زۀ اوس بازار ته د دستکشو سره ځمه[19]

په دې کښې بعضې ټپې زړې دي خو د دې وباپه دې موقع ډېرې مناسبې دي په دې وجه زياتې په ګردش کښې وې بعضې ټپې خلقو د کرونا د پاره بدلې کړي دي او بعضې بيخي نوې تخليق شوي دي.

کاکړۍ غاړې: یا غاړې هغه صنف دے چې د کاکړستان سره مخصوص دے ،د فن په لحاظ د ټپې نه بېل دے خو د فکر او مقبولیت په لحاظ ټپې ته ورته دے ، د اولسي صنف په وجه په دې هم کرونا خپل اثر په ابتداء کښې داخل کړے دے.

د وبا له تبې زاړې ګردې بورې دې لا وراړې

کرونا ده وخوري ځان بېلتون ګران دے د جانان[20]

تا به کې له ما جلا نازکه راله کرونا[21]

نظمونه:

د کرونا وبا په دوران کښې نظمونه هم ډېر یات تخلیق شوي دي د نمونې د پاره صرف د رحمت شاه سائل دغه نظم وړاندې کولے شي.

د کرونا سره مخ په مخ

کرونا!

اے کرونا!

ته که وبا ئې که افت ئې که بل څۀ بلا

خو اولاد د ادم

د ټول انسان د وجود

درد د وجود

زۀ د مشرق په هواګانو پایم

زۀ د مشرق د بچو

د ژړا ټولې سترګې

زۀ د مغرب د بچو

د ژړا ټولې اوښکې

د یو احساس د باغ ګلونه ګڼم

د داسې هر یو ګل په هر یو رنګ کښې

ښېلتون کولے نۀ شم

دا ټول ګلونه یو دي

دا ټول رنګونه یو دي

خمار د ټولو یو دے

ازار د ټولو یو دے

دلبر د ټولو یو دے

دلدار د ټولو یو دے

د درد د څړیکو اور د ټولو یو دے

د ژړا شور د ټولو یو دے

منم زۀ سود د سرمائې هم مړ کړم

منم چې زۀ هر یو ایجاد هم مړ کړم

منم چې ما مې خپل تخلیق هم وژني

منم چې سائنس او فلسفې هم مړ کړم

منم چې ورځې مړ کړم شپې هم مړ کړم

منم چې هر سېلاب وژلے یمه

منم چې هرې زلزلې هم مړ کړم

منم چې ته هسې راغلے نۀ ئې

تۀ مې هم وژنې ستا په خيال پوهېږم

خو ما د دې خاورې او د دې زمکې نه

ګوره په مرګ هم بېلولے نۀ شې

دا دې منم چې ما وژلے شې خو

ما د خپل ځان سره وړلے نۀ شې

تۀ به نن ئې تۀ به سبا له نۀ ئې

زۀ به سبا له هم په دې خاوره کښې

لکه د دې خاورې د تخم په شان

رازرغون شوے يمه

ما د جنګونو سره جنګ کړے دے

په طوفانونو کښې ژوندون کومه

زما فطرت داسے او ساخت داسے دے

چې ژوند پرست يمه

حسن پرست هم يمه

تۀ کۀ اجل هم شې خو تا له به زۀ

ډېر زر شکست درکووم

منه ئې مه قيصه ياده لره

تا سره مخ په مخ ولاړ يمه زۀ[22]

غزلې:

غزل اګرچې ډېر نازک مزاج او فن لري چې داسې واقعيات پکښې ډېر په ګرانه ځائېدے شي خو د دې باوجود هم ډېرې کرونائي غزلې تخليق شوې دي د نمونې په توګه د انور مانيروال دا غزل وړاندے کولے شو۔ دا غزل عرفان کمال په خپل غږ کښې زمزمه کړے هم دے۔

قرنطيني غزل

چې ياد دې راشي، سوړ اسويلے شم
نه ته راتلے شې ، نه زه در تلے شم

چې غږ دې راشي، چې غږ مې درشي
وږمه وږمه شې، سپرلے سپرلے شم

بس دغه نه شم ، چې ستا يم لرې
نور خو هر رنګه ، غمونه وړے شم

د مرګ وبا په ، وطن خوره ده
بس په احتياط ئې ، مخه نيوے شم

يمه انوره ، قرنطينه کښې
کله زبېرګے شم ، کله مسکے شم[23]

دا مشت نمونه خروار يو څو اصناف وو نور ډېر اصناف دي چې د هغې د مطالعې نه دا اندازه ښئ په اسانه کېږي چې دې وبا د انساني ژوند هر اړخ متاثر کړے دے۔

نتيجه: وبا داسې يوه پېښه او مرض وي چې د دې نه د ژوند مختلف اړخونه ضرور مثاثر کېږي۔ دغه اثرات ادب په خپل ځان کښې خوندي کوي چې په نتيجه کښې ئې تاريخ او تلميح په وجود کښې راشي۔ تر اوسه چې کومې وباګانې تېرې شوي دي نو د دې ذکر په پښتو ادب کښې ډېر کم دے ۔ کوم ذکر چې موجود دے د هغې نه هم پوره معلومات اخذ کېدے شي البته د کرونا وبا ذکر ډېر زيات دے چې د راروانو وباګانو نه د خونديتوب د پاره ترې ډېره راهنمائي تر لاسه کېدے شي۔ په کرونائي ادبياتو کښې دا وبا د مختلفو اړخونو په تناظر کښې رابنده کړې شوې ده۔ په ادب کښې د وباګانو ذکر ډېر مهم

دے اګرچې مخکښې دې ته کماحقه پاملرنه نۀ ده شوې خو د کرونا وبا په هر لحاظ سره په ادب کښې خوندې شوې ده۔

تجاويز:

د کرونا وبا په دوران کښې ډېر ادب تخليق شوے دے او لګيا دے نور هم تخليق کېږي ، په داسې هنګامي صورتحال کښې چې څۀ اوشي هغه اکثر بيا تېر او هېر شي نو دغه شان به دا ادب هم بيا هېر او ضائع شي نو پکار ده چې اديبان شاعران ئې خوندي کوي ۔ په دې د ادب د سندي څېړنې د پاره موضوعات ورکړے شي۔ د دې څۀ منتخبات دې په کورس کښې شامل کړے شي۔

## References


1. "PUKHTO" Lughat, Muallif Dr. Khyal Bukhari, Pukhto Acadmy Pekhawar Pohantoon, 2018,maKh 1791
2. "DARYAB" lughat, Muallifen Qalandar Momand Farid Sihraye,N.W.F.P Taxt book bord Pekhawar,1994, makh 1274.
3. Shehzada,Malak Sulaiman"Pakhwani wabaghani aw corona" mashmola majalla Pukhtoon,Bacha khan markaz Pekhawar,may 2020,makh 32.
4. https://web.facebook.com/amir.Humanitarian/posts/3312295352136376 14-6-2020
5. https://web.facebook.com/makham.khattak 6-8-2020
6. Mohman,kamil dost Muhammad khan,"khushal khan khatak sawanih hayat"shaheen books spogmy plaza Peshawar,
7. Khatak,khushal khan,"Kulyat" tarteb o tadween"Dr yaar Muhammad Maghmoom khatak.university book ejancy pekhawar,2016,makh 208
8. Shehzada,Malak Sulaiman"Pakhwani wabaghani aw corona" mashmola majalla Pukhtoon,Bacha khan markaz Pekhawar,may 2020,makh 32.
9. https://web.facebook.com/usman.ulasyar/posts/2846308038820965 4-4-2020
10. https://web.facebook.com/usman.ulasyar/posts/2846308038820965 4-4-2020
11. Bacha khan,khan abdulghabar khan"Zama jund aw jadojihd,da Afghanistan da kaltoori wadi tolana Jarmani,2008,makh 1.
12. Bacha khan,khan abdulghabar khan"Zama jund aw jadojihd" Bacha khan trast research centre Pekhawar,2019,makhuna128-129.
13. Sabekh ahmad,bahawala Ajmal Farooqi,waba awr Allama Ibqal ka Khat" rozmana aaj Peshawar,23 may 2021.
14. Da Parwesh Shaheen da Facebook da wal na.
15. https://web.facebook.com/arif.tabassum.904/posts/801992193540588 17-7-2020
16. Da Noorul Basar Yosafzi da Facebook da wal na, nita,26 march 2020.
17. https://web.facebook.com/permalink.php?story_fbid=3514074998665971&id=100001905157354 Date: 14-3-2020
18. https://web.facebook.com/eshaal.jiya/posts/2522019491380537
19. https://www.bbc.com/pashto/52345344 18-7-2020
20. https://twitter.com/ShafiqaKhplwak/status/1238530445698048008 20-7-2020
21. https://web.facebook.com/messages/t/abdulkarim.aamir 26-7-2020
22. https://web.facebook.com/messages/t/abdulkarim.aamir 26-7-2020
23. https://web.facebook.com/photo.php?fbid=2922465177837702&set=a.430966756987569&type=3&theater